**د پوهنې وزارت**

د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# اسلامي ښوونه او روزنه

# جعفري مذهب

## دوهم ټولګی

Ketabton.com

**د چاپ کال: ۱۳۸۹ هـــ . ش.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري.
په بازار کې يې اخيستنه او خرڅونه په کلکه منع
ده. له سرغړوونکو سره قانوني چلن کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پوهنې وزارت**
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې
او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# د قرآن کریم زده کړه
# او
# اسلامي ښوونه او روزنه

## جعفري مذهب

## دوهم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۸۹ هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب د تالیف، څېړنې او تدقیق کمېټې

## لیکونکی:

۱. محمد باقر جعفری

## د تدقیق کمېټې:

## د پوهنې وزارت علمي غړي:

۲. محمد عزیز بختیاری.
۳. محمد باقر جعفري.
۴. سید عبدالوهاب رحماني
۵. یار محمد باقری
٦. سید محمد حسین فرهنگ
۷. فاروق انصاری

### د نورو اورګانو غړي:

۸. سید حسین عالمی بلخی په ولسی جرګه کې د عدلی او قضایی کمیسیون غړی.
۹. نعمت الله غفاری په ولسی جرګه کې د پوهنې او عالی تحصیلاتو د دینی کمیسیون غړی.
۱۰. مولوی عبدالعزیز په ولسی جرګه کې د پوهنې او عالی تحصیلاتو د دینی کمیسیون غړی.
۱۱. قاضی نذیر احمد حنفی په ولسی جرګه کې د تقنین د کمیسیون معاون.
۱۲. سید عبداللطیف سجادی د شیعه علماوو د شورا غړی.
۱۳. مولوي عین النعیم د علماوو د سراسری شورا غړی.

### د مطالبو فهرست

### د قرآن کریم زده کړه

د قرآن کریم زده کړه ........................................ ۱-۲٦

### اسلامي ښوونه او روزنه

لومړی فصل: عقاید ........................................ ۲۷-۳۷
دهم فصل: احکام ........................................ ۳۸-۵۲
دریم فصل: آداب او اخلاق ........................................ ۵۳-٦۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د پوهنې د وزیر پیغام**

**گرانو استادانو، ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختگ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختگ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کیږي. څرگنده ده چې علمي پرمختگ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښایي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي گټورې موضوعگانې پکې زیاتې شوې دي. د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه گرځیدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده‌کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې گډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ گران استادان او ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او دروند مسؤولیت لري.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرگندو اړتیاوو له مخې پراختیا ومومي.

په دې ډگر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو موسسو، او نورو ملگرو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردگ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د قرآن كريم د زده كړې مضمون

## لومړى لوست

## د قرآن كريم د تلاوت ادبونه

هدف:

د قرآن كريم له آدابوسره آشنايي.

پوښتنه:

آيا تاسو پوهيږئ، چې د قرآن كريم دتلاوت په وخت كې بايد كوم شيان په پام كې ونيول شي؟

د قرآن كريم تلاوت زيات احكام او آداب لري چې دبيلګې په توګه يې ځينوته په لاندې ډول اشاره كوو:

۱ــ له اوداسه پرته بايد قرآن كريم ته لاس ورنه وړو.

۲ــ د قرآن كريم د لوستلو لپاره بايد پاكې جامې زموږ په ځان وي او اودس وكړو.

۳ــ د قرآن كريم له تلاوت څخه د مخه اعوذ بالله مــن الــشيطان الــرجيم او وريپسې ( بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِيمِ ) ووايو.

۴ــ قرآن كريم په پوره ادب او احترام سره تلاوت كړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵ـ هڅه وکړو چې قرآن کريم په سمه توګه زده کړو.**

**٦ـ کوښښ وکړو چې قرآن په ښه غږ تلاوت کړو.**

**۷ـ کوښښ وکړوچې د آياتونو معناګانې هم زده کړو.**

**۸ـ کله چې د قرآن کريم تلاوت واورو، نو بايد غلي شو او غوږ ورته ونيسو.**

**هڅونه:**

زده کوونکي دې د قرآن کريم د تلاوت آداب په غورسره ولولي او بيا دې په خپلو کتابچوکې وليکي.

**ارزونه:**

آيا زده کوونکو د قرآن کريم د تلاوت ادبونه زده کړي دي؟

آيا زده کوونکي د قرآن کريم آدا ب په ټولګي کې کاملا مراعات کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دويم لوست:

# درې ګوني حرکات

هدف: د درې ګونو حرکاتو تکرار.

پوښتنې :

- آيا تاسو زور، زير او پيښ پيژنئ ؟

**الفباء د زور، زبر او پيښ له حرکتونوسره په هجايي ډول ولولئ:**

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اَ اِ اُ | بَ بِ بُ | تَ تِ تُ | ثَ ثِ ثُ | جَ جِ جُ |
| حَ حِ حُ | خَ خِ خُ | دَ دِ دُ | ذَ ذِ ذُ | رَ رِ رُ |
| زَ زِ زُ | سَ سِ سُ | شَ شِ شُ | صَ صِ صُ | ضَ ضِ ضُ |
| طَ طِ طُ | ظَ ظِ ظُ | عَ عِ عُ | غَ غِ غُ | فَ فِ فُ |
| قَ قِ قُ | کَ کِ کُ | لَ لِ لُ | مَ مِ مُ | نَ نِ نُ |
| وَ وِ وُ | هَـ هِـ هُـ | ءَ ءِ ءُ | يَ يِ يُ | |

**لاندې کلمې په هجايي ډول ولولئ:**

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مَع | لَک | فَعَلَ | فُعِلَ | عَلَمَ | عُلِمَ | نَصَرَ | نُصِرَ | مَنَعَ |
| مُنِعَ | خَلَقَ | خُلِقَ | جَمَعَ | جُمِعَ | وَجَدَ | وُجِدَ | رَزَقَ | رُزِقَ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هڅونه :**

**۱ــ ښوونکی دې توري (حروف) له درې ګونوحرکتونو سره ولولي او زده کوونکي دې هغه په پوره پام تکرار کړي .**

**۲ــ زده کوونکي دې په جدول کې د ننه کلمې په هیجایي ډول ولولي.**

**ارزونه :**

**آیا زده کوونکي کولای شي لاندې کلمې په سمه توګه و لولي ؟**

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| حَسَدَ | وَقَبَ | جَاءَ | حَاسِدْ | خَلَقَ | قُلْ | اَعُوْذُ | مَلِکِ | نَعْبُدُ | یَوْمِ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم لوست

# تنوین — ۱

هدف:
د تنوین زده کول
پوښتنې:
- آیا تنوین پیژنئ؟
- آیا کولای شئ تنوین سم ولولئ؟

تنوین په درې ډوله دی:

۱ــ **د زورتنوین**. د دوو زورونو په ډول د توروپه سر لیکل کېږي، لکه : (ــــً) او د هغه ساکن نون په ډول تلفظ کیږي چې مخکې ور خخه زور

وي،مثلا:

( اً) د ( اَنْ) په شان لوستل کیږي.

۲ــ **د زېرتنوین**، د دوو زېرونو په ډول لیکل کېږي، لکه :

(ـــٍ) او د هغه ساکن نون په ډول تلفظ کیږي چې مخکې ور خخه زېر وي،

مثلا: ( اٍ ) د( اِنْ ) په شان لوستل کېږي .

۳ــ **د پېښ تنوین**. د دوو پېښونو په ډول لیکل کېږي، لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(ـــٌـــ) او د هغه ساکن نون په ډول تلفظ کېږي چې مخکې ورڅخه پېښ وي،**

**مثلاً:**

**( اٌ ) د ( اُنْ ) په شان لوستل کېږي .**

**اوس د جدول په داخل کې حروف له تنوین سره ولولئ.**

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لیکل کیږي | اً | اٍ | اٌ | بً | بٍ | بٌ | تً | تٍ | تٌ |
| لوستل کیږي | اَ نْ | اِنْ | اُنْ | بَنْ | بِنْ | بُنْ | تَنْ | تِنْ | تُنْ |

**هځونه :**

۱– زده کوونکي دې حروف له تنوین سره ولولي .

۲– د الفبا حروف د پورتني جدول په څېر و لیکئ او تنوین ورکړئ .

**ارزونه :**

۳– آیا زده کوونکي کولای شي چې د تنوین درې ګوني ډولونه و پېژني او وېې لولي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلورم لوست

# تنوين – ۲

**هدف**

دتنوين يادونه

**پوښتنې:**

آیا کولای شئ الفباء له تنوين سره ولولئ ؟

**اوس د الفباء ټول حروف له تنوين سره ولولئ:**

| |
|---|
| اً اٍ اٌ    بً بٍ بٌ    تً تٍ تٌ    ثً ثٍ ثٌ    جً جٍ جٌ    حً حٍ حٌ    خً خٍ خٌ |
| دً دٍ دٌ    ذً ذٍ ذٌ    رً رٍ رٌ    زً زٍ زٌ    سً سٍ سٌ    شً شٍ شٌ    صً صٍ صٌ |
| ضً ضٍ ضٌ    طً طٍ طٌ    ظً ظٍ ظٌ    عً عٍ عٌ    غً غٍ غٌ    فً فٍ فٌ |
| قً قٍ قٌ    کً کٍ کٌ    لً لٍ لٌ    مً مٍ مٌ    نً نٍ نٌ    وً وٍ وٌ |
| هً هٍ هٌ    ءً ءٍ ءٌ    يً يٍ يٌ |

**هڅونه :**

زده کوونکي دې الفباء په ډله ییزه توګه ولولي.

**ارزونه :**

آیا زده کوونکي کولای شي د تنوين ډولونه له ټولو حروفو سره ولولي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځم لوست

# شد

**هدف**

د شد زده کول

**پوښتنې:**

آیا شد پیژنئ؟

**د شد نښه داده : (ـــــّــ). که د یو توري په سر شد واقع شي معنی یې داده چې دا حرف تکرار شوی دی. لومړی توری یې ساکن او دویم یې حرکت لري.**

**لاندې مثالونو ته پام وکړئ:**

| | |
|---|---|
| مَدَّ | مَدْ دَ |
| إِنَّ | إِنْ نَ |
| رَبُّ | رَبْ بُ |
| صَلِّ | صَلْ لِ |
| ثُمَّ | ثُمْ مَ |
| كَلاَّ | كَلْ لاَ |
| شَدَّ | شَدْ دَ |
| دَلَّ | دَلْ لَ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هڅونه :**

**لاندې جدول د درسي جدول په ډول ډک کړئ :**

| | |
|---|---|
| نَزَّلَ | |
| قَرَّبَ | |
| عَلَّمَ | |
| كَذَّبَ | |
| عَمَّرَ | |

**ارزونه :**

**آيا زده کوونکي شد پېژني ؟**

**آيا زده کوونکي کولای شي شد سم تلفظ کړي ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږم لوست

# اشباعي حرکتونه: الف

**هدف :**

د(الف) له تلفظ سره اشنا يي.

**پوښتني :**

ايا پوهېږئ کله چي الف له يوه زور لرونکي حرف څخه وروسته راشي څه ډول لوستل کيږي؟

دلاندي کلماتو تلفظ ته پام وکړئ :

| | | | |
|---|---|---|---|
| اَ | ءَا | بَ | بَا |
| تَ | تَا | ثَ | ثَا |
| جَ | جَا | حَ | حَا |
| خَ | خَا | دَ | دَا |
| ذَ | ذَا | رَ | رَا |
| زَ | زَا | سَ | سَا |
| شَ | شَا | صَ | صَا |
| ضَ | ضَا | طَ | طَا |
| ظَ | ظَا | عَ | عَا |
| غَ | غَا | فَ | فَا |

په قران کريم کي کله الف د حروفو په سر په ډېر وړوکي شکل ليکل کېږي.

لاندي مثالونو ته پام وکړئ :

(c) ketabton.com: The Digital Library

بَـعَثْنَـٰـكُم = بَعَثْنَاكُمْ        وَٰحِـدٍ = وَاحِدٍ

ذَٰلِكَ = ذَالِكَ

**هڅونه :**

لاندې جدول په مناسبو کلماتو ډک کړئ :

| له زور سره توری | له الف سره توری | | له زورسره توری | له الف سره توری |
|---|---|---|---|---|
| ق | | | ک | |
| ل | | | م | |
| ن | | | و | |
| هــ | | | ء | |
| ي | | | ة | |

**ارزونه :**

آیا زده کوونکي کولای شي حروف له الف سره سم تلفظ کړي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اووم لوست

# اشباعي حرکتونه : واو

**هدف:**

د (واو) له تلفظ سره اشنايي

**پوښتني :**

ايا پوهېږئ کله چي (واو) له يو پيښ لرونکي توري څخه وروسته واقع شي، څه ډول تلفظ کېږي؟

د لاندي کلماتو تلفظ ته پام وکړئ :

| | | | |
|---|---|---|---|
| اُ | اُو | بُ | بُو |
| تُ | تُو | ثُ | ثُو |
| جُ | جُو | حُ | حُو |
| خُ | خُو | دُ | دُو |
| ذُ | ذُو | رُ | رُو |
| زُ | زُو | سُ | سُو |
| شُ | شُو | صُ | صُو |
| ضُ | ضُو | طُ | طُو |
| ظُ | ظُو | عُ | عُو |
| فُ | فُو | قُ | قُو |

په قران کريم کي ځيني وختونه (واو) په ډېر وړوکي شکل د حرف په سرليکل کېږي. لاندي مثالونو ته پام وکړئ :

(c) ketabton.com: The Digital Library

إِنَّهُۥ = اِنَّهُو    رَحۡمَتُهُۥ = رَحْمَتُهُو    خَطِيٓـَٔتُهُۥ = خَطِيئَتُهُو

**هڅونه :**

لاندنى جدول په مناسبو حروفو ډک کړئ :

| له پیښ سره توری | له واوسره توری | | له پیښ سره توری | له واو سره توری |
|---|---|---|---|---|
| ق | | | ک | |
| ل | | | م | |
| ن | | | و | |
| هـــ | | | ء | |
| ي | | | ة | |

**ارزونه :**

آیا زده کوونکي کولای شي حروف له (واو) سره سم تلفظ کړي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آتم لوست

# اشباعي حرکتونه: يا

هدف:

د(يا) له تلفظ سره آشنايي

پوښتنه:

آيا پوهيږئ کله چې يا له يوه زېر خخه وروسته راشي څنګه تلفظ کېږي؟

لاندې تورو ته پاملرنه وکړئ:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اِ | اِي | | بِ | بِي |
| تِ | تِي | | ثِ | ثِي |
| جِ | جِي | | حِ | حِي |
| خِ | خِي | | دِ | دِي |
| ذِ | ذِي | | رِ | رِي |
| زِ | زِي | | سِ | سِي |
| شِ | شِي | | صِ | صِي |
| ضِ | ضِي | | طِ | طِي |
| ظِ | ظِي | | عِ | عِي |
| غِ | غِي | | فِ | فِي |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**په قرآن کريم کې په ځينو ځايونوکې يا په کوچني ډول په توري پسې ليکل شوې وي، لاندې مثالونو ته پاملرنه وکړئ:**

بَـعْدِهِۦ = بَعْدِهِي   بِهِۦ = بِهِي   رُسُـلِهِۦ = رُسُلِهِي   مَلَـٰٓئِكَتِهِۦ = مَلاَئِكَتِهِي

**هڅونه :**

لاندې جدول د درسي جدول په ډول ډک کړئ :

| له زېر سره توری | له يا سره توری | | له زېر سره توری | له يا  سره توری |
|---|---|---|---|---|
| ف | | | ق | |
| ک | | | ل | |
| م | | | ن | |
| و | | | هــ | |
| و | | | ب | |

**ارزونه:**

آيا زده کوونکي کولای شي توري له يا سره سم تلفظ کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نهم لوست

# ترکیبي حروف

**هدف**

له ترکیبي تورو سره آشنایي

**پوښتنه:**

آیا د حروفو مختلف شکلونه پیژنئ؟

تیرکال مو ولوستل، چې حروف کله په لومړي سرکې، کله په منځ کې او کله هم د کلمې پای کې راځي. مختلف شکلونه به یې ووینئ. لاندې جدول ته پاملرنه وکړئ:

| یواځې توری | لومړی توری | دمنځ توری | وروستی توری |
|---|---|---|---|
| ا | ا | ـا | ـا |
| ب | بـ | ـبـ | ـب |
| ت | تـ | ـتـ | ـت |
| ث | ثـ | ـثـ | ـث |
| ج | جـ | ـجـ | ـج |
| ح | حـ | ـحـ | ـح |
| خ | خـ | ـخـ | ـخ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| د | د | ـد | ـد |
| ذ | ذ | ـذ | ـذ |
| ر | ر | ـر | ـر |
| ز | ز | ـز | ـز |
| س | سـ | ـسـ | ـس |
| ش | شـ | ـشـ | ـش |
| ص | صـ | ـصـ | ـص |
| ض | ضـ | ـضـ | ـض |
| ط | طـ | ـطـ | ـط |
| ظ | ظـ | ـظـ | ـظ |
| ع | عـ | ـعـ | ـع |
| غ | غـ | ـغـ | ـغ |
| ف | فـ | ـفـ | ـف |
| ق | قـ | ـقـ | ـق |
| ک | کـ | ـکـ | ـک |
| ل | لـ | ـلـ | ـل |
| م | مـ | ـمـ | ـم |
| ن | نـ | ـنـ | ـن |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| ـــو | ـــو | و | و |
| ـــه | ـــهـ | هـ | ه |
| ـــی | ـــيـ | يـ | ی |

**که پاملرنه موکړې وي، ځينې حروف د کلمې په پای کې تغيير نه خوري.**

**هڅونه :**

**لاندې کلمې ولولئ اوڅرګنده کړئ، چې هر توری ترکيبي شکل لري. د ترکيبي تورو شکلونه د کلمو په وړاندې کېږدئ:**

**مثال:** اَلْحَمْدُ = ا لـ ـحـ ـمـ ـد

نَعْبُدُ =

اَهْدِنَا =

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لسم لوست

# د اخلاص سورت هجايي لوستل

**هدف**

د قرآن کريم له هجايي لوستلوسره آشنايي

**پوښتني:**

- آيا تاسو له هجايي لوستلوسره بلد ياست؟
- آيا تاسوکولای شئ چي د اخلاص سورت په هجايي توګه تلاوت کړئ؟

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| قُلۡ | هُوَ | ٱللَّهُ | أَحَدٌ | ٱللَّهُ | ٱلصَّمَدُ |
| قُ لۡ | هُ وَ | ٱ ل لَّ ه | أَ حَ دٌ | ٱ ل لَّ ه | ٱ ل صَّ مَ دُ |
| لَمۡ يَلِدۡ | | | | | وَلَمۡ يُولَدۡ |
| لَ مۡ | | يَ لِ دۡ | | وَ لَ مۡ | يُ و لَ دۡ |
| وَلَمۡ | يَكُن | لَّهُۥ | | كُفُوًا | أَحَدُۢ |
| وَ لَ مۡ | يَ كُ ن | لَّ هُۥ | | كُ فُ وًا | أَ حَ دُۢ |

**هڅونه :** زده کوونکي دي د اخلاص سورت هجايي ولولي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يوولسم لوست

# د الکوثر سورت هجايي لوستل

**هدف**

د قران کريم له هجايي تلاوت سره آشنايي

**پوښتني:**

آيا تاسو کولای شئ د کوثر سورت هجايي تلاوت وکړئ ؟

آيا تاسو تر اوسه د کوثرسورت هجايي تلاوت کړی دی؟

### دکوثرسورت په هجا سره تلاوت کړئ:

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

إِنَّآ أَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ ﴿١﴾ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ﴿٢﴾ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ﴿٣﴾

**هڅونه:**

زده کوونکي دې د کوثرسورت هجايي تلاوت کړي.

**ارزونه:**

آيا زده کوونکي کولای شي د کوثرسورت په هجا تلاوت کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دولسم لوست

# د الفلق د سورت هجايي لوستل

**هدف:**

د قران کريم له هجايي لوستلو سره آشنايي

**پوښتني:**

آيا تاسوکولای شئ د الفلق سورت هجايي تلاوت کړئ؟

آيا د الفلق سورت مو تلاوت کړی دی؟

### دالفلق سورت په هجا سره تلاوت کړئ:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴿١﴾ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ﴿٢﴾ وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا
وَقَبَ ﴿٣﴾ وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِى الْعُقَدِ ﴿٤﴾ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ﴿٥﴾

**هڅونه:**

ګرانو زده کوونکو! د الفلق سورت هجايي تلاوت کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دیارلسم لوست

# د الناس سورت هجايي لوستل

هدف:

د قران کريم له هجايي لوستلو سره آشنايي.

پوښتنې:

آيا کولای شئ قران کريم هجايي تلاوت کړئ؟

آيا تاسو د الناس سورت تلاوت کړی دی؟

### د الناس سورت هجايي تلاوت کړئ:

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ﴿١﴾ مَلِكِ النَّاسِ ﴿٢﴾ اِلٰهِ النَّاسِ ﴿٣﴾

مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ ۙ الْخَنَّاسِ ﴿٤﴾ الَّذِىْ يُوَسْوِسُ فِىْ

صُدُوْرِ النَّاسِ ﴿٥﴾ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ﴿٦﴾

**هځونه:**

زده کوونکو! د الناس سورت هجايي تلاوت کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ښوارلسم لوست

# د الاخلاص د سورت تلاوت او حفظ

هدف:


د اخلاص د سورت رواني تلاوت او حفظ کول

پوښتني:

آيا تاسو کولای شئ، چې قران کريم رواني تلاوت کړئ؟

آيا د اخلاص سورت مو ياد دی؟

**د اخلاص سورت حفظ کړئ اوبيا يې تلاوت کړئ:**



بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ
قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ١ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ٢ لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ
يُولَدۡ ٣ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ ٤

**هڅونه:**

د اخلاص سورت رواني تلاوت کړئ.

د اخلاص سورت حفظ کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځلسم لوست

# د الحمد د سورت تلاوت او حفظ

هدف

د الحمد د سورت رواني تلاوت او حفظ کول

پوښتنې :

آیاتاسو کولای شئ د حمد سورت تلاوت کړئ؟

آیا د الحمد سورت موحفظ کړی دی؟

### د حمد سورت حفظ کړئ او په رواني سره يې تلاوت کړئ:

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿١﴾

الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٢﴾ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ ﴿٣﴾

مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ﴿٤﴾ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ

﴿٥﴾ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ﴿٦﴾ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ

عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ ﴿٧﴾

**هڅونه:**

دحمد سورت حفظ کړئ او په رواني سره يې تلاوت کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپاړسم لوست

# د النصر د سورت تلاوت او حفظ

هدف

د النصر د سورت رواني تلاوت او حفظ کول

پوښتنې:

آيا د النصر سورت رواني لوستلی شئ؟

آيا د  النصر سورت مو حفظ کړی دی؟

**د النصر سورت په رواني سره تلاوت کړئ.**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ○
إِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ ۝١ وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ
اللّٰهِ أَفْوَاجًا ۝٢ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهٗ كَانَ تَوَّابًا ۝٣

**هڅونه:**

د النصر سورت په رواني ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اوولسم لوست

# د الکافرون د سورت رواني تلاوت

**هدف:**

د الکافرون د سورت د رواني تلاوت زده کړه

**پوښتني:**

آیا د الکافرون سورت رواني تلاوت کولای شئ؟

**د الکافرون سورت رواني تلاوت کړئ.**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ
قُلْ يٰٓاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ﴿١﴾ لَآ اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ﴿٢﴾
وَلَآ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ ﴿٣﴾ وَلَآ اَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ ﴿٤﴾ وَ
لَآ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ ﴿٥﴾ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ﴿٦﴾

**هڅونه:**

هر زده کوونکی دې د الکافرون سورت په رواني تلاوت کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی فصل: عقاید

**لومړی لوست:**

## د دین اصول

**هدف**

ددین له اصولو او مذهب سره اشنا کيدل.

**پوښتنې**

- ايا د دين اصول پيژنئ؟

زموږ د دین او مذهب اصول پنځه دي:

۱. توحید: یعني د الله ﷻ په یووالي ایمان لرل.

۲. عدل: یعني الله ﷻ عادل ذات دی او ظالم نه دی.

۳. نبوت: یعني په دي خبره ایمان او باور لرل چې الله ﷻ ډیر پیغمبران د خلکو د لارښوونې او هدایت لپاره رالیږلي دي.

۴. امامت: یعني دا چې دولس امامان له پیغمبر (صلي الله علیه و آله وسلم) څخه وروسته د امت د هدایت دنده په غاړه لري.

۵. معاد: یعني دا چې ټول انسانان وروسته له مرګ څخه بېرته را ژوندی کیږي او د دوی عملونه او کړه وړه ټول د قیامت په ورځ حسابیږي.



**هڅونې**

۱. زده کوونکي دي خپلو منځو کې د دین په اصولو یو له بل سره وغږیږي؟

۲. زده کوونکي د دین اصول باید په یادو سره زده کړي.



**ارزونه**

آیا د اسلام پنځه بناوي مو پیژندلي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم لوست:

# کلمه طیبه

**هدف**

له کلمې طیبې سره اشنا کېدل.

**پوښتنې**

- ایا پوهیږئ کلمه طیبه څه شی ده؟
- ایا کولای شئ کلمه طیبه وواياست؟

هر انسان د کلمې طیبې «لا اله الا الله محمد رسول الله» په ویلو سره مسلمان کیږي د کلمې طیبې معنا داسې ده: «هیڅوک غیر له یوه الله تعالی څخه د عبادت لایق نه دی او محمد(ص) د الله تعالی را لیږل شوی پیغمبر اورسول دی.



هځونې

۱. زده کوونکي دې کلمه طیبه په ډلییزه توګه سره په اوچت آواز وواېي؟

۲. د کلمې طیبې د معنی په باره کې په خپل منځ کې خبرې وکړئ؟



ارزونه

- آیا زده کوونکو کلمه طیبه په یادو زده کړې ده؟
- آیا هغوی د کلمې طیبې په معنی او مفهوم پوه شوي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم لوست:

# توحید

**هدف**

د دین له اصولو او په خاصه توګه له توحید سره اشنائي.

**پوښتنې**

- ایا پوهیږئ چې د دین اصول څو دي؟
- ایا د توحید معنا پیژنئ؟

توحید: یعنې یوازې یو الله تعالی وجود لري چې ټول مخلوقات یې پیدا کړي دي، موږ چې کله کلمه طیبه وایو د الله تعالی په یووالي اعتراف کوو. الله (ج) عالم او قدرتمند دی. الله (ج) زموږ سره په کارونو کې کومک کوي، الله (ج) ډیر مهربانه دی او خپل بندګان ورته ګران دی، موږ ته الله (ج) تر هر څه ګران دی او عبادت یې کوو.



هڅونې

زده کوونکي دې په درې نفري ډلو وویشل شي او د درس د محتوی په باره کې د یو له بل سره خبرې وکړي.



ارزونه

- له تاسې څخه کوم یوه د توحید معنی زده کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځلورم لوست:**

# الهي عدل

**هدف**

د مذهب له اصولو او په خاصه توګه د الله (ج) د عدالت له معنی سره اشنایي.

**پوښتنې**

- څوک د عدالت معنی پوهیږي؟
- الله (ج) له خپلو بندګانو سره څرنګه چلن کوي؟

الهي عدل یعنې الله (ج) عادل دی او له هیچا سره ظلم نه کوي.

الله (ج) عدل کوونکي انسانان خوښوي. الله (ج) هغه خلک چې ښه کارونه سرته رسوي جنت ته بیایي خو هغه خلک چې ظلم کوي او خلکو ته ضرر رسوي دوزخ ته بیایي.



**هڅونې**

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې الهي عدل په باره کې څه ولیکي.



**ارزونه**

- څوک کولی شي د الله (ج) د عدالت مفهوم واضح کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم لوست:

# نبوت

**هدف**

اشنايي له نبوت يا دوهم اصل سره.

**پوښتني**

- د دين له اصولو څخه دوهم اصل کوم دي؟
- څوک د نبوت په معنا پوهيږي؟

لـوی خـدای د انـسانانو د لارښـووني لپـاره ډيـر پيغمبـران را ليږلـی دی. الهـي پيغمبـران د ژونـد سـمې لارې انـسان ته ښـايي. پيغمبـران ريـښتني او زړه سـوانده شخصيت لرونکی دی.

موږ د الله تعالی له لوري په راغلی ټولو پيغمبرانو ايمان لرو.

حضرت محمد (ص) تـر ټولـو وروسـتی پيغمبـر دی لـه ده وروسـته بـل پيغمبـر نـه راځي موږ مسلمانانو ته خپل پيغمبر ډير ګران دی او د سنتو پيروي يي کوو.



هڅوني

۱. زده کوونکي دې په څو ډلو وويشل شي او هره ډلـه دې د درس پـه موضـوع خبرې وکړي.



ارزونه

- محترم ښوونکيه! آيا زده کوونکي د نبوت په معنی پوه شوي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**شپږم لوست:**

## د رحمت نبی

**هدف**

**د پیغمبر** صلی الله علیه و اله وسلم **سره اشنا کېدل.**

**پوښتني**

- **ایا پوهیږئ چې ز مونږ پیغمبر (ص) په کوم ځای کي دنیاته راغلی؟**
- **ز مونږ د پیغمبر (ص) کردار او رویه د کوچنیانو سره څنګه وه؟**

زموږ د پیغمبر (ص) نوم محمد (ص) دی. او د پلار نوم یې عبدالله او د مور نوم یې بي بي آمنه ده. حضرت محمد (ص) په مکې معظمې کې زیږیدلی دی. زموږ پیغمبر حضرت محمد (ص) د ماشومانو سره ډیره مینه درلودله او تل یې پر هغوی مهرباني کولهز رسول الله (ص) علم ته زیاته پاملرنه کوله. لاندې قصه په غور سره واورئ. یوه ورځ رسول الله (ص) مسجد ته ننوت ویې لیدل چې یو ټولګی عبادت کوي او بل ټولګی د علم په زده کړې بوخت دی. نو ویې فرمایل: چې (دواړه ډلې د خیر کار کوي ولې زه د ښوونکی په حیث لیږلی شوی یم) هماغه وه چې د علم د زده کوونکو ټولګی ته ورغی او ورسره کښیناست. پیغمبر (ص) په خپله دغه کړنه باندې زموږ پام دې ته راګرځوي چې د علم زده کړه خورا اهمیت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### هڅونې

۱. خپل پیغمبر(ص) معرفي کړی؟

۲. د پیغمبر(ص) د اخلاقو په هکله سره خبرې وکړئ؟

۳. د مسجد له امام یا خپل مور او پلار څخه د رسول الله (ص) د ماشوم توب په باره کې پوښتنې وکړئ، ویې لیکئ او بیا خپلو ټولګي والو ته و وایئ.

۴. تاسو له دې قصې څخه څه پند واخیست.

**ارزونه:**

۱. آیا تاسو د خپل پیغمبر له نوم او د هغه د مور او پلار له نوم سره آشنا یئ.

۲. تاسو له دې قصې څخه څه برداشت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم لوست:

# امامت

**هدف**

د مذهب له اصوله او په ځانګړي ډول له امامت سره اشنايي.

**پوښتني**

- څوک کولای شي د امامانو نومونه ووايي؟
- امامان څه دندې لري؟

مونږ عقيده لرو چي د اسلام له پيغمبر صلی الله علیه و آله وسلم څخه وروسته دولس امامان شته دي چي دنده لري د اسلام د مبين دين ارشادات خلکوته بيان کړي، امامان دولس تنه دي چي لومړی يې امام علي(ع) او آخرينی يې امام مهدي صاحب الزمان دی. دوولس امامان د پيغمبر صلی الله علیه و آله وسلم له اهل بيت څخه دي. چي نومونه يې په لاندی ډول دي:

| | |
|---|---|
| ١- امام علی (ع) | ٧- امام موسی کاظم(ع) |
| ٢- امام حسن(ع) | ٨- امام رضا(ع) |
| ٣- امام حسين (ع) | ٩- امام محمدتقي(ع) |
| ۴- امام زين العابدين(ع) | ١٠- امام علي النقي(ع) |
| ۵- امام محمد باقر(ع) | ١١- امام حسن عسکري(ع) |
| ۶- امام جعفر صادق(ع) | ١٢- امام مهدي(ع) |



هڅوني

زده کوونکي دي په څلورو ګروپونو وويشل شي او يو له بل څخه دي د امامانو نومونه و پوښتي.



ارزونه

آيا زده کوونکو د امامانو نومونه زده کړي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتم لوست:

# معاد

## (د مرګ نه روسته بیا ژوندي کېدل)

**هدف**

د اصول دین خصوصاً د معاد د معنی سره اشنا کېدل.

**پوښتنې**

- ایا د معاد معنی پیژنی؟
- ایا پوهیږئ چې په هغه بله دنیاکې د نیک عمله خلکو سره څنګه چلند او معامله کیږي؟

یوه ورځ د پسرلي په ورځوکې زده کونکو د خپل ټولګي د کړکیو څخه د باندې یوه ښکلې منظره کتله او د هغې ښکلې منظرې سیل یې کاوه دوی د ځمکې د زرغونیدو او بوټو او ګیاه په شنه کیدو یو د بل سره خبرې کولې. چې دغه، ګیاه، بوټی، او نور شنه شوی شیان چې ګورو ټول د پسرلی د فصل څخه مخکې په ژمي کې تللی او وچ سوی وو اوس بیرته ټول ژوندي او شنه د خاورې څخه را وتلی دی! پدی وخت کې ښوونکی ټولګی ته داخل شو سلام یې و اچاوه او د ټولو زده کونکو د حال پوښتنه یې وکړه بیایې وویل: ګرانو زده کونکو! څه شي په باره کې موخبرې کویې:

حامد وویل: موږ د ګیاه او بوټو د شنه کیدو او د ځمکی د زرغونید و په هکله خبرې کولې.


ښوونکي وویل: ډیره ښه موضوع ده! تاسو ګورئ چې دغه ګیاه د منی او ژمی د فصلونو څخه وروسته بیرته شنه او ژوندی شوه. خدای(ج) لکه څنګه چې دغه ګیاه او بوټي پس له مرګ او وچیدو څخه بیرته شنه او ژوندي کړل! په آخرت کې هم الله تعالی ټول خلک را ژوندي کوي او هغو خلکو ته چې په دې دنیا کې یې ښه نیک

(c) ketabton.com: The Digital Library

عملونه کړي وي اجر او ثواب ورکوي او جنت ورته په برخه کوي او هغه کسان چې په دې دنيا کې يې بد عملونه او بد کارونه کړي وي هغوی ته جزاء او عذاب ورکوي.

حامد وويل: معلم صاحب دغه موضوع ډيره لويه شوه موږ غوښتل چې نن ورځ موږ ته د اسلام دريم اصل بيان کړې.

ښوونکي په خندا سره وويل: دغه موضوعات ز موږ د نن ورځې درس نه و ز موږ د نن ورځې درس (معاد) و چې همدغه د اسلام دريم اصل دی. معاد پدې معنی دی چې موږ ټول پس د مرګ څخه بيرته را ژوندي کيږو او خدای ج به يوه ورځ ټول مخلوق را جمع کوي نيک عمله خلکو ته به اجر او ثواب ورکوي او بد کاره او بد عمله خلکو ته به جزاء او عذاب ورکوي.




۱. زده کونکي دې بيان کړي چې د پسرلی په فصل کې د ګياوو شنه کيدل د انسانانو د ژوندي کيدو سره د قيامت په ورځ څه مشابهت لري؟




آيا زده کونکي د معاد په معنی او مفهوم پوه شوي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوم فصل: احکام

نهم لوست:

## د دین فروعات


**هدف**
د دین د فروعو سره اشنا کیدل.
**پوښتنې**
- ایا د دین فروع پیژنئ؟
- ایا د دین د فروعو معنی پیژنئ؟

د دین فروع د اسلام هغو دستورونو او کړو ته ویل کیږي چې مسلمان مکلف دی چې په هغه باندې عمل وکړي. الله ﷻ نېه کارونه په مسلمانانو واجب ګرځولي دي چې مسلمانان همیشه نېه کارونه وکړي، او د بدو کارونو څخه ځان وژغوري. د اسلام مهم او ضرور فروعات په دې درس کې لولو:

۱. لمونځ: په شپه او ورځ کې پنځه لمونځونه واجب (فرض) دی.
۲. روژه: د رمضان په مبارکه میاشت کې روژه نیول.
۳. زکات: د خپل مال څخه یوه اندازه مال فقیرانو او محتاجو خلکوته ورکول.
۴. خمس: نیکانو او ساداتو فقیرانو ته د یوې اندازې او مقدار مال ورکول.
۵. حج: څوک چې توان لري باید یو ځل حج ته ولاړ شي.
۶. جهاد: د خپل دین او وطن څخه دفاع کول.
۷. امر په معروف: خلکو ته په نیکو کارونو سره امر کول.
۸. نهي له منکر څخه: د خلکو منع کول له بدو کارونو څخه.
۹. تولی: دوستی کول د الله ﷻ او د ده د رسول د دوستانو سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰. تبري: د الله ﷻ او د ده د رسول د دشمنانو سره دشمني کول.




۱. د دين فروعات په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

۲. د دين فروعات په یادوسره یاد کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسم لوست:

# اودس يا د لمانځه لپاره پاکوالی

**هدف**

د اوداسه کولو د طريقې پيژندنه.

**پوښتنې**

- پوهيږئ چې مخکې د لمانځه نه څه وکړو؟
- څوک کولای شئ چې په عملي توګه او دس وکړي؟

حکمت يو ډير هوښيار هلک دی هغه په دريم ټولګي کې درس وايي حکمت د خپلې وړې خور فوزيې سره مرسته کوي چې خپل درسونه ياد کړي يوه ورځ حکمت د ماسپښين په وخت د لمانځه لپاره اودس کاوه فوزيه چې د خپل کور په انګړ کې لوبې کولې راغله او پوښتنه يې وکړه چې څنګه اودس وکړم؟ حکمت ورته وويل: د اوداسه لپاره لاندې کارونه کوو:



۱. نيت کوو چې اودس کوم لپاره د عبادت د خدای(ج)

۲. خپل مخ مينځو د سر دويښتانو د بيخ څخه تر آخر د زنې پورې د پاس نه کښته طرف ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳. ښی لاس د څنګلې څخه ترګوتو پورې مینځو د پاس نه کښته طرف ته.



۴. چپ لاس هم د ښی لاس په ډول مینځو.



۵. په سر مسحه کوو غیر د دی چی لاس د دویم ځل لپاره په اوبو لوند کړو د پاس نه کښته طرف ته.

۶. د ښی پښې مسحه په ښي لاس کوو د ګوتو نه تر بندکي پورې.

۷. د چپې پښې مسحه په چپ لاس کوو د ګوتو نه تر بندکی پورې، حکمت په هغه ترتیب سره چې وویل: اودس وکړ ترڅو یې خور زده کړي.



هڅونې

زده کونکی دې په نوبت سره اودس وکړي او ښوونکی دې ورته متوجه شي.



ارزونه

آیا زده کونکو د دې درس څخه وروسته اودس یاد کړی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوولسم لوست:

# لمونځ

**هدف**

د لمانځه پيژندنه.

**پوښتنې**

- ايا تاسو لمونځ کوی؟
- لمونځ د چا لپاره کوو؟

مورږ ټول د الله تعالی شکر کوو چی مسلمانان يو هر مسلمان په شپه ورځ کی پنځه لمونځونه کوي لمونځ د لوی رب تعالی عبادت دی مورږ چې کله په لمانځه دريږو د خپل رب سره خبرې کوو او د هغه سره تعهد او وعده کوو چې يوازې د ده عبادت کوو او پرته د ده څخه د بل هيڅ شي عبادت نکوو له همدې کبله څوک چې لمونځ کوي هغه د ګناهونو څخه ځان ساتي او هيڅ بدکار نکوي. مورږ ډير خوشحال يو چې ښوونځي ته راځو او لمونځ يادوو مورږ په دويم ټولګي کې لمونځ يادوو او هر کله چې لمونځ ياد کړو بيا هغه خپل پلار او مورته وايو. پنځه لمونځونه په دې وختونو کې اداکيږي:

سهار، ماسپښين، مازديګر، ماښام، ماخوستن.



هڅونې

د لمونځو د رکعاتو شمير له خپل مور او پلار نه زده کړئ او په ټولګي کې پرې خبرې وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولسم لوست:

# د فاتحی سورت

**هدف**

د فاتحی د سورت لوستل او په یادو زده کول.

**پوښتني**

- ایا د فاتحې سورت سره اشنا یاست؟
- ایا کولای شی چی د فاتحې سورت وواياست؟

مورږ مسلمانان په یوه شپه او ورځ کې پنځه لمونځو نه کوو او پـه هره لمانځه کی کم ترکمه دوه ځله د فاتحی سورت لولو. د حمد د (فاتحـه) د سورت لوستل مو پـه لومړي ټولګي کې زده کړي دي او پـه دې درس کې بـه د حمد سورت پـه یادو زده کړو.



هڅوني

۱. محترم ښوونکی دې زده کونکو تـه د حمد د سورت آیتونه داسې قرائت کړي چې زده کونکي وکړای شي هغه په یادو ووایي.

۲. زده کونکي دې په پنځه نفري ګروپو نو وويشل شي او په خپل وار سره دې د حمد سورت پـه یا دو ووایي او نور ټول دې ورتـه پـه غور سره غوږ و نیسي او یو د بل غلطي دې اصلاح کړي.



ارزونه

محترم ښوونکی دې له زده کونکو څخه وغواړي چی د حمد سورة په یادو ووایي.
نور ټول زده کونکي باید د حمد سورة په ښه طریقه یاد او حفظ کړي څو وکولای شي چې لمونځ وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیارلسم لوست:

# د اخلاص سورت

**هدف**

د اخلاص د سورت لوستل او په یادو زده کول.

**پوښتنې**

- ایا کولای شئ چې د اخلاص سورت ولولی؟
- ایا د اخلاص سورت مو یاد کړی ده؟

د لمانځه په اول او دویم رکعت کې د فاتحې د سورت د لوستلو څخه وروسته. د اخلاص سورت یا یو بل وړوکی سورت لولو. په دې درس کې به ټول یو د بل سره د اخلاص سورت لولو او په یادو به یې زده کوو.




۱. زده کونکي دې په څلور نفري ډلو وویشل شي او په خپل منځ کې دې په نوبت سره د اخلاص سورت ولولي.

۲. زده کونکي دې په دوه کسیز ډول د اخلاص سورت یو بل ته ووایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

 څوارلسم لوست:

# تشهد

**هدف**

د تشهد لوستل او په یادو زده کول.

**پوښتنې**

- ایا پوهیږئ چې تشهد څه ته وایي؟
- تشهد په کوم وخت کې ویل کیږي؟

د هر لمانځه د دویم رکعت د دویمې سجدې څخه وروسته تشهد لولو په تشهد سره د خدای(ج) په یو والي او د پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم په رسالت او پیغمبرۍ شهادت او ګواهي ورکوو او په محمد (ص) او د ده په پاکه کورنۍ درود او دعا وایو: ((اللهم صل علی محمدٍ و ال محمد)) او که چیرته د لمانځه په آخر رکعت کې یوو نو د سلام په ویلو به لمونځ تمام کړوو. د سلام لپاره وایو ((السلام علیک ایها النبی و رحمة الله و برکاته، السلام علینا و علی عباد الله الصالحین، السلام علیکم و رحمة الله و برکاته))





هڅونې

۱. زده کوونکي دې د تشهد او سلام ذکر په ډېر دقت سره ولولي.
۲. زده کوونکي دې په دوه کسیزه ډول سره د تشهد او سلام ذکر خپلو منځو کې ولولي.



ارزونه

آیا کولای شئ چې د تشهد ذکر د یادو څخه ووایي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه لسم لوست:

# قنوت

**هدف**

د دعاى قنوت درست او صحيح لوستل او يادول.

**پوښتنې**

- ايا پوهيږئ چې قنوت څه شى دى؟
- ايا دعاى قنوت موزده دي؟

دعاى قنوت د هر واجب لمانځه په دويم ركعت كې ركوع ته له تللو څخه مخكې واجب دى. او هم كولاى شو چې په قنوت كى هره دعا ولولو. لاندى دعا په قرآن كريم كې راغلې او د قنوت لپاره ډيره مناسبه او غوره ده.



رَبَّنَــآ ءَاتِنَــا فِى ٱلدُّنْيَــا حَسَــنَةً وَفِى ٱلْأَخِرَةِ حَسَــنَةً وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّــارِ.



هڅونې



١. زده كونكي دې په دوه كسيزه ډول په خپل منځ كې دعاى قنوت ووايي.

٢. زده كونكي دې په اوچت آواز سره په خپل ټولګي كې دعاى قنوت ووايي.



ارزونه

آيا كولاى شئ چې دعاى قنوت د يادو څخه ووايي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپاږسم لوست:

# د رکوع او سجدې ذکر

**هدف**

د رکوع او سجدې د ذکر لوستل او په یادو زده کول.

**پوښتنې**

- ایا د رکوع او سجدې ذکر مو یاد دی؟



د لمانځه د ارکانو څخه یوه هم رکوع ده. په رکوع کې لمونځ کوونکی په دومره اندازه کښته کیږي چې لاسونه یې په زنګنونو ولګیږي په رکوع کې درې ځلې ((سبحان الله)) یا یو ځل ((سبحان ربی العظیم و بحمده)) ویل کیږي، د لمانځه د ارکانو څخه یو بل رکن په هر رکعت کې دوه سجدې دي په سجدې کې سر په ځمکه یا مهر لګوو او درې ځله ((سبحان الله)) او یا یو ځل ((سبحان ربی الاعلی و بحمده)) وایو.





هڅونې

۱. زده کوونکي دې په دوه کسیزه ډول سره خپلو منځو کې د رکوع او سجدې ذکر په یادو ولولې.

۲. زده کونکي دې یو، یو کس په نوبت سره د رکوع او سجدې ذکر په ټولګي کې په اوچت آواز سره ووایي.



ارزونه

آیا د رکوع او سجدې ذکر په یادو ویلای شئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوو لسم لوست:

# د لمانځه څخه وروسته دعا کول

**هدف**

د لمانځه وروسته د دعا لوستل او يادول.

**پوښتني**

- ايا د لمانځه څخه وروسته دعا لولئ؟
- د لمانځه څخه وروسته کومه دعا لولئ؟

انسان هر وخت د سختۍ او مشکل سره مخامخ کيږي او زړه يې غواړي چې خپل مشکل الله تعالی ته وړاندې کړي او د هغه څخه وغواړي چې د ده مشکل او سختۍ حل کړي. الله ﷻ په قرآن کريم کې فرمايلي چې تاسو زما څخه دعا وغواړئ زه ستاسو دعا قبلوم. انسان چې کله دعا کوي د خپل رب (الله تعالی) سره خبري کوي او د هغه څخه مرسته او کمک غواړي.



نو له همدې کبله دعا کول انسان الله تعالی ته نژدې کوي او د بلې خوا د انسان مشکل هم حل کوي. انسان هر وخت کولی شي چې الله ﷻ ته دعا وکړي او د هغه څخه مرسته او کمک وغواړي، ولې په ځينې وختو کې دعا ښه قبليږي چې يو د دغو وختو څخه وروسته د لمانځه څخه دعا کول دي. موږ کولی شو چې وروسته د لمانځه څخه د هر نيک او ښه کار دعا د الله تعالی څخه وغواړو مګر ښه او بهترينه دوعا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیغمبر ﷺ او د معصومو امامانو دعا ده. په دې لوست کې د حضرت زهرا سلام الله علیها تسبیحات چې پیغمبر علیه السلام خپلې لور ته ورښوولي دي ذکر کوو.

د حضرت زهرا د تسبیحاتو لوستل ډیر زیات ثواب او اجر لري خصوصاً وروسته د لمانځه څخه. د حضرت زهرا په تسبیحاتو کې ۳۴ ځله الله اکبر وایوو ۳۳ ځله الحمدلله وایوو او ۳۳ ځله سبحان الله وایو.



هڅونې

۱. د لوست مطلب په پنځو کرښو کې خلاصه کړئ.
۲. د حضرت زهرا تسبیحات یاد کړئ.



ارزونه

◈ آیا زده کوونکي کولی شي چې د حضرت زهرا تسبیحات ولولي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اتلسم لوست:**

# ثنګه لمونځ وکړو؟

**هدف**

د لمانځه د ادا کولو د طريقې سره اشنا کېدل.

**پوښتنې**

- ولې لمونځ ادا کوو؟
- څرنګه لمونځ وکړو؟

لمونځ د خدای(ج) عبادت دی. هر مسلمان د الله تعالی په امر سره په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځ ادا کوي. لمونځ زموږ د بندګۍ نښه ده موږ په لمانځه کې د الله تعالی د زياتو نعمتونو چې موږ ته يې راکړيدي شکر ادا کوو او د هغه عبادت کوو.

څرنګه لمونځ ادا کړو؟

په تيرو درسونو کې مو د لمانځه اجزاء ياد کړل او په دی درس کې دوه رکعته لمونځ په مکمله توګه يادوو.

- هيرنکړئ چې د لمانځه د ادا کولو لپاره بايد اودس ولرو او وروسته بيا لاندې کارونه په ترتيب سره وکړو.
- د قبلې په لور ودريږو.
- نيت کوو يعنی قصد کوو په زړه کې د مثال په توګه په زړه کې وايو: دسهار دوه رکعته لمونځ کوم خاص الله تعالی لپاره بيا ((الله اکبر)) وايو.
- د حمد سورت آخره پورې لولو.
- د اخلاص سورة ((قل هو الله احد)) يا کوم بل سورت مکمل لولو.
- رکوع ته ځو او په رکوع کې د ملاتير په داسی اندازه کښته کوو چې لاسونه زنګنو ته ښه سم ورسيږي او پدې حالت کې وايو ((سبحان ربي العظيم و بحمده)).
- وروسته د رکوع څخه نيغ دريږو او وايو ((سمع الله لمن حمده)).

(c) ketabton.com: The Digital Library

- وروسته بیا سجدې ته ځو د سجدې لپاره سر پر مهر باندی ږدو او وایو ((سبحان ربی الاعلی و بحمده)).
- له دې وروسته کښینو او سجدې ته ځو د دویم ځل لپاره د اول ځل په شان.
- لدی وروسته کښینو او بیا پورته کیږو او د اول رکعت په شان حمد او سورة وایو. د سورت د ویلو څخه وروسته دعای قنوت لولو یعنی د دواړو لاسونو ورغوي اوچتوو او دعا کوو د مثال په توګه دا قرآنی دعا لولو (( ربنا آتنا فی الدینا حسنة وفی الآخرة حسنة و قنا عذاب النار)) هره دعا کولای شو چې قنوت کې يې ووایو.
- وروسته بیا په ترتیب سره لکه چې وویل شو رکوع ته ځو او بیا سجده کوو.
- وروسته د دویمې سجدې څخه کښینو او تشهد وایو په تشهد کې داسې وایو ((اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شریک له و اشهد ان محمداً عبده ورسوله، اللهم صل علی محمد و آل محمد))
- بیا سلام ګرځوو السلام علیک ایهاالنبی ورحمة الله وبرکاته، السلام علینا و علی عباد الله الصالحین، السلام علیکم ورحمة الله و برکاته.



هڅوني

۱. زده کونکي دې دوه رکعتي لمونځ ادا کړي.



ارزونه

د څو زده کونکو څخه باید وغوښتل شي چې دوه رکعتی لمونځ په کامله توګه ادا کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نولسم لوست:**

# پلیتي ((نجاست)) او پا کوالی

**هدف**

د نجاست او پاکوالی سره د زده کونکو اشنا کېدل.

**پوښتنې**

- ایا پوهیږئ چې نجاست څه شی دی؟
- که چیرته څه شی نجس شي څنګه کولای شئ چی هغه پاک شي؟

بعضی شیان نجس او ناپاکه دي لکه وینې، متیازې، د انسان بولې او د نا پاکه شیانو خوړل حرام دی. همدارنګه د لمونځ کونکي بدن، کالي، د سجدې ځای باید پاک وي او په نجاست ککړنه وي. هر وخت چې لاس، کالي، لوښي، فرش، او داسی نور په نجاست ککړ شي باید پاک یې کړو، نجاست په مینځلو سره پاکیږي هر کله چې خپله نجاست لکه متیازې بولې د بدن (ځان) او کالیو څخه لیرې شي لدې وروسته باید دری ځله وربانده اوبه تیرې شي. پس او به د پاکولو سبب او ذریعه ده او هر شی چې ناپاکه او نجس شي په اوبو سره پاکیږي. هر کله چی د لمونځ کونکي ځان یا کالي (جامې) په وینو، متیازو او د انسان په بولو ککړې شی باید په اوبو سره ومینځل شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱. د انسان بدن (ځان) کالي (جامې) په څه شي سره نجس کېږي؟

۲. څرنګه د انسان بدن او کالي د نجاست څخه پاکېږي؟




ایا انسان کولای شي چې د هغو کالیو سره چې په وینه ککړ وي لمونځ وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم فصل: آداب او اخلاق

شلم لوست:

## د مور او پلار حقونه

**هدف**

د مور او پلار د حقونو او احترام لرلو د ضرورت پېژندل.

**پوښتنې**

- ولې د مور او پلار احترام کوو؟
- تاسو څنګه د مور او پلار احترام کوئ؟

حضرت موسی علیه السلام د الله تعالی د لویو پیغمبرانو د جملې څخه وو. هغه یوه ورځ د خدای ج څخه وغوښتل چې د هغه اندیوال او ملګری په جنت کې ورته وښیي ده ته الله تعالی وحې وکړه چې د ښار په فلانی منطقه کې یو قصاب ژوند کوی چې هغه به ستا سره په جنت کې وي. موسی ع وغوښتل چې پوه شي چې هغه څه کردار کړیدی چې د خدای ج سره داسې لوی منزلت لري. ولاړ او هغه قصاب کوريي پیدا کړ او هغه ته یي وویل میلمه غواړې! قصاب وویل میلمه د خدای ج دوست دی حضرت موسی ع یو دوه ورځې دهغه په کور کې و تر څو وګوري چې هغه کوم ښه کار کوي هغه ولیده چې قصاب څو ځله کوټی ته ننوځي او څه وخت هلته تیروي او بیا راوځي د قصاب څخه یي پوښتنه وکړه چه هغه په کوټه کې څه کوي؟ هغه په ځواب کې وویل: زه مور لرم چې هغه د فلج په مرض اخته ده او د حرکت کولو توان نلری زه ورځم د هغی ډوډی، خوراک او څښاک ورته برابر وم او په خوله کې یي ورکوم او ورسره خبرې او مجلس کوم چې حوصله اوزړه یي تنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشي. حضرت موسی(ع) متوجه شو چې د دې قصاب ښه والی او اوچت منزلت الله تعالی سره د دی کار په وجه دی چې د خپلې زړې او مریضې مور سره ښه کوي د دې په خاطر خدای(ج) ده ته عالی او لوړ مقام ورکړیدی او هغه ته یې جنت ور په برخه کړیدی کله چې حضرت موسی(ع) پوه شو نو د هغه سره یې خدای پاماني او مخه ښه و کړه.




۱. ولی هغه قصاب د خدای د پیغمبر سره په جنت کې ملګری شو؟
۲. تاسو خپل مور او پلار سره څنګه رویه کوئ؟
۳. که یو ځل مور او پلار خفه کړئ بیا د هغوی د خوشحالو لپاره څه کوئ؟




- آیا زده کونکي د مور او پلار په احترام پوهیدلي دي؟
- آیا زده کونکي د مور او پلار د احترام په اهمیت پوه شویدی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو ويشتم لوست:

# د ښوونکي حقونه

**هدف**

د معلم د حقوقو د پيژندنی سره اشنا کېدل.

**پوښتنې**

- ايا تاسو پوهيږئ چې ستاسو ښوونکي پر تاسو څه حقوق لري؟
- ولې ښوونکی په خپلو زده کونکو حق لري؟

ښوونکی مورِ ته علم او پوهه راښيي، ښوونکی مورِ ته عقايد او د اسلام د دين احکام او اخلاق راښيي. ښوونکی مورِ ته ډول ډول علوم را زده کوي. ښوونکی مورِ ته د ژوندانه سمې لارې ښيي. نو د دی لپاره ښوونکی ز مورِ په تعليم او تربيه او ښه والي کې ډير مهم رول لري. د همدې کبله ده چې د اسلام پيغمبر صلى الله عليه وآله وسلم فرمايلي دي (علماء د نبيانو وارثان دي) ځکه چې نبيانو هم خلک، ښې ، نيکې او د هدايت لارې ته چې د خدای (ج) لار ده را بلل او دعوت يې ورته کاوه او هغوی يې د دنيا او آخرت په ښيگڼو او نيکمرغيو پوهول. مورِ هم د خپل ښونکو سره مينه لرو او کوشش کوو چې د هغوی د درس ورکولو احترام ولرو درناوی يې وکړو او هغه ښه استقبال کړو. مورِ د ښوونکي نصيحتونه او پندونه هيڅکله نه هيروو او خپل درسونه په ډير ښه دقت او شوق سره لولو ترڅو پورې چې د ښوونکي کوښښ او زحمت بې ځايه او ضايع نشي. مورِ کله چې ښوونکی خبرې کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرې نه کوو. کله چې د هغه خبرې خلاصې شي نو بیا وروسته پوښتنې کوو. موږ هر وخت د خپل ښوونکي سره مجلس او خبرې کوو او کوښښ کوو چې د بدو او بې ادبه خبرو څخه ځان وژغورو.



## هڅونې

۱. خپل نظر د ښوونکي د حقونو په هکله په پنځو کرښو کې ولیکئ.
۲. د مور او پلار او یاد مسجد د امام څخه پوښتنه وکړئ چې ښوونکی په خپلو زده کوونکو څه حق لري او هغه نتیجه بیا په خپلو کتابچو کې ولیکئ؟



## ارزونه

- آیا زده کونکی د درس په مطلب او مرام پوه شویدی.
- آیا هغوی کولاي شي چې دا واضحه کړي چې د ښوونکي کار او دنده د پیغمبرانو له کار سره څه مشابهت او ورته والی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ویشتم لوست

# د ګاونډي حقونه

**هدف**

د ګاونډي د حقونو سره د شاګردانو اشنائي


**پوښتنې**

- ایا د ګاونډي حقونه پیژنی؟
- ستاسو په فکر ښنګه کولی شو چې د ګاونډي حقونه مراعت کړو؟

زموږ ګاونډي یو سړي دي چې کورئي زموږ د کور خوا کې دي. د اسلام مقدس دین د ګاونډي لپاره زیات حقونه ورکړي دي. حضرت محمد(ص) به ډیره سپاریښتنه کوله چې باید د ګاونډي حقونه مراعات او وساتل شي. ځینې حقونه د ګاونډي دا دي:

- که چیرته هغه قرض وغواړي باید ورېې کړو
- د هغه عیب پټ کړو او بل چاته و نه وایو
- کله چې مریض شي پوښتنه کې وکړو
- د غم او خفګان په وخت کې هغه سره غم شریکي وکړو او هغه ته تسلی ورکړو
- د هغه د خوشحالی په وخت کې هغه سره خوشحالی وکړو او مبارکی ورکړو
- کله چې چیرته سفر وکړي او مسافر شي د خپل توان په اندازه د هغه د مال اولاد ساتنه وکړو
- هغه ته د هر رنګه ضرر او تاوان رسیدو څخه ډډه وکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱. د جومات د امام او د کوڅې د غټو او لویانو څخه د ګاونډي نور حقونه یاد کړو او هغه په خپلو کتابچو کې او لیکو او بیا یې خپل ټولګي کې ولولو

۲. خپل نظر د ګاونډي په هکله په پنځو کرښو کې اولیکي؟




- آیا زده کوونکو د ګاونډي حقونه پیژندلي دي؟
- آیا هغوی کولی شي چې د مثال په توګه په خپل ژوند او چاپیریال کې د ګاونډي حقونه بیان کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**در ویشتم لوست**

# د لویانو او مشرانو د احترام ساتل

**هدف**

د لویانو احترام ساتل او هغو سره ښه سلوک کول.

**پوښتنې**

- ایا د لویانو احترام ضروري دي؟
- څنګه د لویانو احترام وکړو؟

احمد په دویم ټولګي کې درس وایي هغه یوه ورځ په ملي بس موټر کې سور شو چې ښوونځي ته ولاړ شي. هغه یوه خالي چوکۍ (سیټ) پیدا کړ او کښیناست.

هغه خوشحال و چې خالي سترګې یې په رضا ولګیدې چې لږ وړاندې هغه هم په چوکۍ ناست دی. احمد له ځان سره وویل: ډیره ښه ده چې رضا هم په چوکۍ ناست دی. ځکه چې هغه پرون ورځ د لوبو په وخت په ځمکه ولویده او پښه یې خوږ شوه او درد یې کاوه. د موټر په بل تم ځای کې یې بوډا سړی ولیده چې موټر ته پورته شو او کله چې احمد ولیدل چې خالي چوکی په موټر کې نشته، زړه یې پرې وسوځیده خوده بیا هم خپل ځای ورته ورنکړ.

په همدې وخت کې رضا پورته شو او دهغه بوډا سړي څخه یې وغوښتنل چې دده په ځای کښیني ځکه چې د لویانو احترام په موږ لاژم دی. بوډا او مشر سړي شکریه ادا کړه او کښیناست. احمد ددې لپاره چې هغه مشر

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی ته یې ځای نه و ورکړی ډیر خجالت او پښیمانه و او بیا هغه وخت چې رضایې ولید چې په زخمي پښه د خپل ځای څخه پورته شو او خپل ځای یې دغه مشر سړي ته پریښود ډیر خجالته شو.



### هڅونې

۱. ولی رضا چې پښه یې زخمی وه او دردیې کاوه خپل ځای مشر او بوډا سړي ته ورکړ؟

۲. که چیرته تاسو د رضا په ځای وای څه به موکړای وای؟

۳. خپلو ټولګیوالو سره خبرې وکړئ چې ولې په موږ دلویانو خلکو احترام لازم دی؟



### ارزونه

آیا زده کوونکی ویلی شي چې احمد ښه کار وکړ او که رضا؟

که چیرته شاګردان د مشرانو د احترام په معنی او مفهوم پوه شوی وي څو مثالونه دې ذکر کړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**څلورويشتم لوست**

# رښتيا ويل

**هدف**

د رښتياويلو اهميت او منزلت سره اشنا کيدل

**پوښتنې**

- رښتيا ويل او صداقت زموږ په ژوند کې څه اهميت لري؟
- که چيرته سړی شو ورځې رښتيا و نه وايي خلک به له هغه سره څنګه معامله وکړي؟

موږ مسلمانان يو او الله تعالی موږ ته لارښونه کړې ده چې رښتيا ووايو، رښتيا ويل د پيغمبرانو صفت دی او دروغ ويل ډير بد کار دی.

رښتياويونکی انسان هر څوك خوښوي او په هغه اعتماد او اعتبار کوي او د هغه په خبرو اعتبار او باور کوي. ليکن د دروغجنو خلکو په ويناوو څوك اعتبار او باور نکوی او هيڅوك دروغجن سړی نه خوښوي او د هغه په خبرو باور او اعتبار نکوی.

که دروغجن سړی رښتيا هم وايي خلك باور او اعتماد پرې نکوي.

د يوه شپانه قيصه په ښه دقت سره لولو او د هغه څخه پند او عبرت اخلو.

يوه هلك په يو کلی کې شپني کوله. يو ورځ هغه يوازې غره ته ختلی و، فکر او سوچ يې وکړو چې څه وکړي؟ تر څو خپل وخت تيرکړي او ځان مصروف وساتي. اخريې دا فکر او سوچ وکړ چې ناری او سوری ووهي چې ليوه دده په رمه (پسونو) حمله کړی ده چې څو کسان راشي او دی له يو ازيتوب او تنهايي


(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه خلاص شي. شپانه نارې او سورې په لوړ آواز شروع کړی چې (لیوه دی لیوه دی) تر هغه پورې یې دا نارې وهلې چې ډیر خلك خبر شول او ده ته په منډه ورغله چې مرسته او کمك ورسره وکړي. لیکن کله چې خلکو ولیدل چې لیوه نشته او کراره کراري ده او رمه څرېږي شپانه ته یې سزاوار کړه چې ولې دې دروغ ویلي وو؟

وروسته له څو روځو بیا دا کار تکرار کړ. لیکن هغه خپل باور او اعتبار د لاسه ورکړی و او خلکو دده په خبرو باور نه کاوه. یوه ورځ وه چې په رښتیا سره لیوه په رمه حمله وکړه او شپانه نارې او چیغې شروع کړې خلکو راشئ کمك راسره وکړئ لیکن خلك هغه ته ور نه غله او فکرېې کاوه چې شپون دروغ وایي د لکه په شان، همغه و چې لیوه ډیره پسونه څیري کړل او وې خول خو هیڅوك د شپانه مرستې ته ورنه غله.

اوس ستاسو په نظر او فکر ولې خلك د شپانه مرستې ته ورنه غله؟

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱. د رښتیاویلو اهمیت په دوو کرښو کې ولیکئ؟

۲. پورتنۍ قیصه په پنځو کرښو کې لنډه کړئ؟

۳. خپل نظر او فکر د دې قیصی په هکله بیان کړئ؟




آیا شاګردانو د رښتیاویلو او صداقت اهمیت پیژندلی دی؟

آیا شاګردان کولی شي چې د خپل ژوند او چاپیریال څو مثالونه د رښتیاویلو په اړه ووایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه ویشتم لوست

# د صحت ارزښت

**هدف**

د صحت مندی اهمیت سره اشنا کیدل

**پوښتنې**

- تاسو خپلې سلامتۍ او صحت ته څومره اهمیت ورکوئ؟
- تاسو څرنګه د خپلې سلامتۍ او صحت ساتنه کوئ؟

صحت او سلامتي يو د الله تعالی د لويو نعمتونو څخه دی. ډير خلك تر هغه پورې چې خپل صحت او سلامتي ئي له لاسه نه وی ورکړې د صحت په قدرنه پوهيږي. هغه وخت انسان د صحت او سلامتۍ په قدر او اهميت پوهيږي چې کله ناروغ شي د مثال په توګه کله چې زموږ په غاښ درد شي نو متوجې کيږو چې زموږ د غاښ سلامتۍ څومره اهميت او قدر درلود او موږ ور څخه غافله او ناخبره وو. نو د دې لپاره بايد چې موږ ډير کوشش او زيار و باسو تر څو خپل صحت او سلامتي وساتو. موږ څرنګه کولی شو چې خپل صحت او سلامتي وساتو؟ موږ بايد کوښښ وکړو چې خپل ځان او خپل چاپيريال پاك وساتو. ځيني کارونه چې هغه بايد وکړو دا دی. لږ تر لږه د ورځې دوه ځله بايد خپل غاښونه په مسواك او يا د غاښو په کريم پريمينځو. لږ تر لږه بايد خپل ځان په هفته کې درې ځله په ګرمو اوبو او صابون سره پريمينځو.

- ميوې او ترکاري بايد مخکې له خوړلو څخه ښه پريمينځو

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د کور چتلي او ګندګي باید په کوڅه اولارکې وا نه چوو او خپل چاپیریال پاك وساتو.



هڅونې

۱. د سلامتي او صحت اهمیت په پنځو کرښو کی ولیکئ؟

۲. د یو چا د صحت ساتلو لپاره باید څه وکړو بیان یې کړئ؟

۳. تاسو که کوم داسې کار چې په درس کې وویل شو کړی وي په کتابچه کې یې اولیکئ؟



ارزونه

آیا زده کوونکي د صحت او سلامتی په اهمیت پوه شوي دي؟

هڅوی څو مره د یو کس د سلامتیٔ په ساتنه کې کوشش کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږ ویشتم لوست

# سوله او امنیت

**هدف**

د سولې او امنیت د اهمیت سره اشنا کیدل.

**پوښتنې**

- ایا تاسو د سولې معنی پیژنئ؟
- تاسو څومره د سولې سره علاقه لرئ؟

خدای جل جلاله انسان ته عقل ورکړی چې د ښو، او بدو کارونو فرق او تمیز وکړي او د خپل ژوند لپاره ښه، سم او مناسب شرایط برابر کړي. انسان باید کوشش وکړي چې خپله ټولنه آرامه وساتي او خپل ژوند د هر راز جنګ او جدل څخه وژغوري. د اسلام پاك دین هم سولې او امنیت ته ډیره توجه کړې ده چې مسلمانان باید یو تر بله سره مینه او محبت ولري، له ټولو سره په پراخه تندې او ښه ژبه خبرې وکړي د دې لپاره باید کوشش وکړو چې:

- ښه سلوك اختیار کړو
- د جنګ جګړې او شخړو څخه ځان وساتو
- هیچا ته کنځلې او بدې خبرې او نکړو
- په بدو عبارتونو له چا سره خبرې و نکړو
- له هیچا سره په تروه تنده او غوسه خبرې و نه کړو
- د هیچا غیبت باید و نکړو
- په هیچا پسې تور او تهمت و نه وایو
- د هیچا سپکاوی باید و نکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هڅونې

۱. په پنځه کسیزه ډلو تقسیم شئ او څلور شیان پیدا کړئ چې د هغو په کولو سره خپله ټولنه آرامه وساتي؟

۲. وواياست چې تاسو باید څه وکړئ چې له چاسره جنګ او جګړه او نکړئ



## ارزونه

آیا زده کوونکو د سولې او امنیت اهمیت او ضرورت پیژندلی دی؟

آیا هغوی کولی شي چې د خپل ژوندانه او چاپيريال څو مثالونه د سولې د اهمیت لپاره راوړي؟

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**